۱

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۶
نېټه: ۱٤٤۳/۷/۲۳ هـق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محاكمو ته!

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته

وبعد: د مخکنی اداري له مسئولينو او کارکوونکو سره د چلند په هکله د اسلامي امارت مشرتابه عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله فرمان نمبر (۹) مورخ ۱٤٤۳/۳/۱۷ هـ ق په لاندي ډول رارسيدلي:

((د عفوې تر فرمان وروسته د اسلامي امارت له خوا د مخکنی فاسدي اداري د مجرمينو د مجازات او عدم مجازات اړوند دغه ضميمه فتوی چي د علماء کرامو له خوا صادره شوې او د کره کتني د عالي اداري د شيو خو کرامو له خوا تاييد شوې؛ زما له خواهم تاييد ده، ددې فتوی په رڼا کي خپل اجراآت تر سره کړئ.))

دا چي د اسلامي امارت مشرتابه مذکوره فرمان او له هغي سره ضم د علماء کرامو فتوی د ستري محکمې عالي مقام ته وړاندي شوه چي په اړه يي داسي هدايت صادر شو:

((د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب د مذکوره فرمان په اساس تائيد شوي فتوی دي د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته واستول شي تر څو په قضائي چارو کي ور څخه لازمه استفاده وکړل شي.))

بناءً د اسلامی امارت د مشرتابه مذکوره فرمان د ستري محکمې د عالي مقام د هدايت په اساس په (٤) ورقو کی د افغانستان اسلامي امارت ټولو تميزونو ، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغي په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

په درنښت

۲۳ / ۷ / ۱٤٤۳ هـ ق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af